Australian Government

Department of Home Affairs

# Privacy notice

# رازساتنې یادونه

Form

1442i PAS

PASHTO

د Department of Home Affairs (د کورنیو چارواداراه) (اداره) دآسترالیاسرحدي قواپه کې ګډون لري (Privacy Act) *Privacy Act 1988* {(درازساتنې قانون *1988*) (رازساتنې قانو)} اداره لازم ګڼې چې په هره یوه ځینو موضوع ګانوچې مونږد شخصي مالوماتونوپه هکله راټولو. دغه فورم ستاسي ددغوموضوع ګانویادونوته ده.

## شخصي مالومات څه شې دي؟

درازساتنې قانون شخصي مالومات چمتوکوی دغه مالومات یا نظریه دهره یوه ده کوم چې نسبي پیژندني وړوي.

همدا ډول دکډوالۍ ادراه ځیني حساس شخصي مالومات راټولوي، کوم چې د رازساتني دقانون لاندي تشریح شوي اود هره یوه کس انفرادي مالومات په هکله لکه د نژادي یا قومي اصلیت، جنسي تمایل یا عمل، جرمي سابقه، روغتیایي او بایومټریکي مالومات، دمسلکي یا تجارتي ټولنوغړي توب، فلسفي عقیدي، اوسیاسي ټولنوسره اړیکي په ګډون.

دقانون عمده ټکې دکډوالۍ اداری لخوا *Migration Act 1958* (کډوالۍ اداری قانون *1958* (اداری قانون))، د *Customs Act 1901* (دګمرکونو قانون *1901* (دګمرکونو قانون))، د *Immigration* (*Guardianship of Children*) *Act 1946* (کډوالۍ [دکوچنیانوپرستاري] قانون *1946* (IGOC قانون))، د *Excise Act 1901* (غیر مستقیم مالیاتو قانون *1901*) (غیرمستقیم مالیاتوقانون))
د *Australian Border Force Act 2015* (آسترالیا د *2015* کال دسرحدي قواقانون (سرحدي قواقانون))، د *Maritime Powers Act 2013* (کال سمندري قواوقانون *2013*) (سمندري قواوقانون)) او د *Australian Citizenship Act 2007* (دآسترالیا تابعیت قانون *2007* (دتابعیت قانون)).

## شخصي شناخت کونکي

دکډوالۍ اوتابعیت قانون ستاسي دشخصي مالوماتوراټولولو، کارولو، او/یا افشاکولوپه هکله په ګډون د حساس مالومات لکه بایومټریک(همدارازد`شخصي شناخت په نامه یادیږي`) ځانګړي مادي لري.

قانون شخصي ځیرې پیژندونکي تعریف کوی چې په کې شامل کړې:

- امضأ یا دګوتې مهر
- دمخ عکس اویا دمخ اواوړو عکس
- د آوازثبتول یا ویدیو اخستل (فقط دکډوالۍ اداری دقانون په مقصد او په محدوده استثنأتوکې)
- دقدلوړوالۍ اووزن اندازه
- دننه دسترګې سکین یا عکس اخستل
- دکس امضأء یا
- نوري پیژندني چې قانون کې تشریح شوي.

بایومټریک مالومات(شخصي شناخت کونکي) به ممکن راټول او/یا انفرادي کسانوڅخه تصدیق شي:

- په هوائي ډګرکې کله چې سفرکوي
- سمندرنه هغي غاړي ته د ویزي غوښتنلیک لپاره(دساتني ویزي غوښتنلیک په ګډون)
- کوم هغه کسان چې دآسترالیا په ټولنه کې تابعیت نلري
- کوم هغه کسان چې دکډوالۍ اداري په قیدکې دي
- کوم هغه کسان چې د آسترالیا د تابعیت اخستلوغوښتنکي دي.

## کډوالۍ اداره څه کوی اوزمونږه په اړیکه ساتلوجزییاتو

دکډوالۍ اداري وظیفه ده چې دآسترالیا سرحد ساتنه وکړي اود خلکواومالونوتګ وراتګ مرسته کولواواطمینان ورکولوسره تنظیم کړي:

- د آسترالیا راتلونکې تنظیم شوي مهاجرت په موخه
- دپناه غوښتونکوساتنه او نړیوالې بشري پالیسي سره مرستي کول
- دآسترالیا امنیت دسرحد نظم اوامکاناتوبرابرول سفرکولوته
- دتجارتي احصائي اوعایداتوراټولول دسرحدڅخه
- دقانوني تجارت امکاناتوبرابرول
- دآسترالیا سمندري امنیت اوتجارتي ګټې
- دآسترالیا دکډوالۍ اداري قانون سره توافق اوتصمیم نیولوسره ثبات
- دآسترالیا دتابعیت دقوانینونظم اواداره.

داړیکي پوره جزییات دکډوالۍ اداری په ویب پاڼه کې موندل کیږی

**www.homeaffairs.gov.au**

که تاسي یقین کوي چې مونږستاسي مالومات په غلطه سره راټول کړی یا کارولی، تاسي کولای شې:

- د بیا کتنې فورم په لاندی پته آنلین ډک کړي **www.homeaffairs.gov.au/feedback**
- په لاندی پته ولکي:

The Manager
Global Feedback Unit
GPO Box 241
Melbourne VIC 3001
Australia

## دکډوالۍ اداری به له چا څخه ستاسي شخصي مالومات راټول کړي

په عمومي ډول دکډوالۍ وزارت (یا دهغي دخدمتونوچمتوکونکې قراردادي) ستاسي شخصي مالومات به راسأ ستاسي، څخه راټول کړي. دریېمګړې کس چې تاسي ورته صلاحیت ورکوی یا صلاحیت لرونکي سیستم چې دمهاجرت قانون ترحکم لاندي تعریف شوي دي. سمارت ګیټ SmartGate اونورپخپله کارشوي automated پولې پاکولو سیستمونه په صلاحیت ورکړشوي سیستمونوکې ګډون لري. ممکن تاسي به خپل شخصي مالومات له دریمګړي څخه هم راټول کړي. کوم چې په ګډون دآسترالیا نوري دولتي ادارو، دقانون تطبیقولو اداري، بهرني دولتونه، تضمین کوونکي، طبی کارکونکي، هغه اداري چې تاسي یادونه موکړي،تعلیمي چمتوکوونکي، ټولني غړي او کار کونکي کوم چې مالومات لری کډوالۍ اداري سره اړیکه نیسي ( دمثال په توګه. ` زیږیدنې نیټه`)

### اداري یا قراردادیا ن چې امیګریشن کارونه اجرا کوي

ځیني شخصي مالوماتونه زمونږ په نمایندګې دنورو دولتي ادارو لخوا راټول اوکارول کیږي صلاحیت ورکړل شوي چې دکډوالۍ اداری ځیني کارونه پرمخ یوسي.

همدا رازشخصي مالوماتونه دقراردادیانو لخوازمونږپه نمایندګې راټولوي. مثال یي په ګډون د مسافروپرمخ تللې اجراأت هوایي مسافروړنکوپواسطه دواړوبهراودننه پروازونوته، دکمپیوتر سیستم، مطالعاتوارزوینه، مرکي، مرستي خدمتونه دامیګریشن توقیف کسانواوطبی خدمتونولپاره.

همدا رازکډوالي اداري قراردادیانونه هم لازم ګڼي چې رازساتني قانون په مطابق عمل وکړي، صرف نظردهغه نه چې آیادوي په آسترالیا اویا بهرکې شتون لري.

## ستاسي شخصي مالوماتونوراټولول د قانون په واسطه لازم اويا صلاحيت ورکړل شوي.

دکډوالۍ اداري قانون، د IGOC قانون، دګمروکاتوقانون، دماليات غيرمستقيم قانون، سمندري قواوقانون، دتابعيت قانون اود رازساتني قانون، ځيني حالاتوکې کډوالۍ اداری هڅوي چې ځيني شخصي مالوماتونه د قانون تطبيقولوپه موخه راټول کړی.

### د مايګريشن قانون

دويزي دغوښتنليک په اړه، کډوالۍ اداری:

- دهريوه مالومات راټولولوته کوم چې دغوښتنليک په هکله وي صلاحيت ورکړل شوی دی( دکډوالۍ قانون 56 ماده وګوري)، او
- ممکن تاسي لازم وګڼی چې شخصي پيژندني چمتوکړی (دکډوالي قانون 40 او 46 مادي وګري).

ويزي غوښتونکې، او ويزي لرونکې، بايد کډوالۍ اداری دهريو بدلون يا غلطه مالومات نه چې په غوښتنليک کې څرګند شوي خبرورکړي (د کډوالې اداری 104 او 105 مادوپه ملاتړ).

دکډوالې اداره به تاسي نه وغواړي چې يويا ډيري شخصي شناخت کونکي د کډوالې اداري قانون اودکډوالې اداري 1994 کال د اصول په مقصد چمتوکړئ.

کله چې آستراليا ته داخليږي،کډوالۍ اداری لازم ګڼې چې تاسي ځيني شخصي مالومات چمتوکړي(دبيلګې په توګه اتباعودپاره پاسپورټ، پيژندني دپاره ثبوت اوبغيراتباعوته ويزه). که تاسي بغيرتابعيت ياست او لازم ثبوت چمتونه شو، تاسي به آستراليا ننوتلونه به منع شئ (دکډوالۍ اداری قانون 257A ماده وګوري).

کله چې دآستراليانه ووځي، کډوالۍ اداری لازم ګڼي چې ځيني شخصی مالوماتون پيژندني چمتوکړي(کډوالۍ اداری قانون 257A ماده وګوري).

چې غيرقانوني اونه تابعيت لرونکې وپيژني، کډوالۍ اداری ممکن لازم وګڼي:

- پيژندنې سند اوويزي ثبوت، په ګډون دځان پيژندني(کډوالۍ اداری قانون 188 ماده وګوري).
- يوکس که سنديا مالومات ديونفرچې ګمان کيږی غيرقانوني نه تابعيت لرونکې دی د هغی په پيژندنه يا چيرې والۍ مالومات ورکړی(کډوالۍ اداری 18 ماده وګوري).

دکډوالې اداري په توقيفګاه کې بايدڅوک شخصي شناخت ښوونه وکړي(دکډوالې قانون 258 مادي(1)261AA وګورئ اوهم دکډوالې اصولنامي 3.30 شرطونه وګورئ).

د سپانسرد موضوع ګانو په برخه کې، کډوالۍ اداری عادلانه پلټني Fair Work Ombudsman (FWO) (کارپلټونکي) (FWO) دوي به دخپل پلټونکې په مطابق مالومات چې په فرعي فصلF د 3A فصل 2 برخې دکډوالۍ اداری قانون کې شته به ممکن شخصي مالومات راټول کړي.

دڅيړنې دتوان په مقصد دامیګريشن دقانون د 252 جز په اساس، صلاحيت لرونکې آفسرممکن سنديا نورشې به دهغه کس اويا ملکيت دکس ترببرني کنترول لاندي، د مثال په توګه، دابه دهغه کس دويزي دباطلولودپاره سند وي.

آفسر به جعلي سند ضبط کړي کوم چې جرم دي ( داميګريشن قانون 487ZJ جز، اود 1 ماده 9 برخه اودهغه سند سره د کړني په ګډون وګورئ).

### د تابعيت قانون

کډوالۍ اداره ممکن ډيري شخصي مالومات د خپل قناعت دپاره راټول کړي چې هره يوه کس دتابعيت اخستلولازمي شرطونه پوره کړي.

مونږصلاحيت لرو چې دتابعيت اخستلوغوښتنليک په اړه ځان پيژندني غوښتنه وکړو، که ستاسي پيژندنې دتصميم نيونکې دقناعت وړونه ګرځي ستاسي غوښتنليک به قبول نه شي(د5 فصل 2 برخې او (3)17، (4)19D، (3)24، او (3)30 کډوالۍ اداری قانون مادي وګوري).

هئيت به جعلي سند ضبط کړي کوم چې جرم دي (د تابعيت قانون 45B جز، اود 1 ماده 3 برخه اودهغه سند سره د کړني په ګډون وګورئ).

### د COGI قانون

د *Immigration (Guardianship of Children) Act 1946* (ترحکم (کډوالې اداري کوچنيانوسرپرستي) *1946* کال قانون (د IGOC قانون)) اودهغي اصولنامي، هغه بغيرتابعيت لرونکي واړه کوچنيان چې بغيرله سرپرست موروپلاراوعمرياخپلوانه آستراليا ته راځي اوعمريي 21 کالويازياته وي کډوالې وزارت وزيردهغوي سرپرست دي، دوي د (IGOC کوچنيانوپه نامه پيژندل کيږي).

چې سرپرستي مسوليتونورسيدوته مرسته وشي، د IGOC قانون وزيرته صلاحيت ورکوي چې خپل سرپرستې هئيت ته د مرکزي، ايالتي، سيمه ييزدولت کارکونکي ته دکارعمل کول اوصلاحيت ورکړي (د`سرپرستي هئيت` په شان مراجعه کيږی). همدا ډول علاقمند اومناسب کس يا موسسه هم کيداي شي د IGOC واړه کوچنيانودسرپرستي دپاره وټاکل شي. په عمومي شرطونوکې سرپرست حق اومسوليت لري چې دهغه کوچني عمر لرونکي په هکله چې ددوي ترسرپرستي لاندي دي ورځني تصميم ونيسي.

د IGOC کوچنيانوترقانون لاندي ورځني خيال ساتني او هوسايني اطمينان حاصل شي، دکډوالې اداره د IGOC کوچنيانو اودهغوي د سرپرستانوپه هکله مالومات راټولوي. ترڅود IGOC کوچنيانوورځني پاملرنه اوهوسايني اړتياوي په اطمينان سره حاصل شي، چيرته چې اړدي د کډوالې وزارت درازساتني قانون په مطابق، دکډوالې وزارت به دلاندي ځايونونه مالومات افشا او راټول کړي:

- ايالتي/ سيمه ييزصلاحيت لرونکي نه، دماشوم دهوسايني موسساتوپه ګډون
- تعين شوي ډله سرپرستان
- نظارت کونکي
- والدين، پام ساتونکي او/ يا خپلوان، او/ يا
- دآستراليا نوري دولتي موسسي.

### د ګمرکونوقانون اوغيرمستقيم مالياتوقانون

کډوالې وزارت ته صلاحيت ورکړشوي چې ډول ډول شخصي او کسب وکارمالومات دګمرک اوغيرمستقيم مالياتوقوانين اونور اړيکي لرونکي قوانين تنظيم ته راټول کړي (د کډوالې قانون اومالياتواصول په ګډون). په خاصه توګه دکډوالې وزارت دغه مالومات د آستراليا دسرحدساتنۍ دپاره راټولوي اود سرحدي عايد راټول اطمينان حاصلوي.

په ځينوحالاتوکې، مونږغوندي چې شخصي مالومات تاسي نه د پيداشوي موضوعاتوپه اړيکه د ګمرکونواوغيرمستقيم مالياتو قوانينواومالياتواصولنامي به همدارازيواځني راټولولوخبرتياوي  راټولوي. دغي ډولونه به همدارنګي تاسي ته ټاکلي مالومات د راټولولوپه هکله چمتوکړي، دشخصي مالوماتو استعمال او افشاکول چې په دغه سندونوکې راټول شوي، چې بايدد رازساتني قانون خبرتياسره يوځاي ولوستل شي.

دبيلګي په ډول، د ګمرکونودقانون د 64ACA او 64ACB برخوپه حکم، دکډوالې وزارت ته لازم دي چې ځيني شخصي مالومات دکشتيو،هوائي جازمسافرواوکارکونکي په اړه چې آستراليا ته راځي، داداري تنظيم، ګمرکونوقانون، کډوالې قانون اونوري قوانينوپه مقصدراټول کړي.

### د سمندري قواوقانون

دکډوالۍ وزارت دشخصي مالوماتوراغنډول دسمندري قواود قانون په صلاحيت چې په اوبوباندي دقانون تطبيقول دي لري. دغه قوا دآستراليا سمندري اړيکي قوانينوتطبيقول، دبهرني غير قانوني ماهيګيروګمرکاتوپه اړه، سمندري دهشت افګنيو، کډوالې، قرنطين اودمخدره موادوقاچاق، اوهمدارنګي نړيوالي سمندري تعهدات اوتنظيمولوملاتړکوي.

### رازساتنې قانون

رازساتنې قانون اجازه ورکوي چې دغه شيان راټول کړي:

- حساسيت لرونکې مالومات چيرې چې قانون اجازه ورکړې، يا کارولوپه اړيکه اجراأتو، يا ستاسي په رضايت
- نوري شخصي مالومات کوم چې نسبتأ اړينه وي، اويا راسأ ورسره اړيکه ولري، يويا ډيري دکډوالۍ اداری کارولوفعاليتونه.

## کوم قوانين چې دکډوالې وزارت يي تطبيقونکې دي

د کډوالې وزارت ځيني هدفونودپاره دلاندنيوقوانينوپه حکم دقانون تطبيقونکي دي: د *Crimes Act 1914*, the *Criminal Code Act 1995*, the *Australian Nuclear Science and Technology Organisation Act 1987* (the ANSTO Act) and the *Independent National Security Legislation Monitor Act 2010* (*(1914)* کال جرمونوقانون، د *1995* کال مجرم کود قانون، د *1987* کال د آستراليا داتومي علم او تکنالوژي موسسي قانون، (د ANSTO قانون) اود *2010* کال نظارت قانون د آزادې ملي امنيت قانون جوړول، او ددغوقوانينوپه رڼا چې دفعاليتونودرست اجرات وشي شخصي مالومات به راټول کړي.


© COMMONWEALTH OF AUSTRALIA, 2020

# دخه شي په مقصدمونږستاسي شخصي مالومات راټولو

زمونږلمړنې مقصد ستاسي دشخصي مالومات ټولولوپه هکله داده چې کډوالۍ اداری خپلې کارونه اوفعالیتونه کوم چې ستاسي د مهاجرت او/یا تابعیت پروړاندی دی پرمخ یوسي، اود مالونورسول ټولوپولوته. مونږلاندې پروګرامونه تنظیموؤ:

- ویزه اوهجرت کول
- ګمرکونه اومالیه وضع کول، دآستراليا څینوقوانینودتنظیم په ګډون لکه مالیه یا ټکس، روغتیا، قرنطین، تجارت، مجرم، عقلاني خاصیت اوټولینیزي ساتني قوانین
- د پولې تنظیمول
- پناه غوښتنې او بشردوستۍ مرستي
- ویزې قبلول اوامیګریشن حالت حلول
- امیګریشن بندیز، ایستل یا یوسیمه ییزاجراأتومرکزته انتقال کول (په ګډون دخدمتونوچمتوکونکي او بهرني صلاحیت لرونکي کارکونکي چې هیوادنه دباندي اجراآتوملاتړته، بیلګي په ډول قانون تطبیقول، ټولنیزي هوسایني خدمتونواصول اومیشته کیدل)
- تابعیت.

تاسي په ویزه کې چې مالومات وړا ندې کوي، تظمینول، تجارت یاراکړي ورکړي، صادرات اوواردات، قرنطین، یا تابعیت غوښتنلیکونه به دلمړنې مقصدلپاره وکارول شي.

درازساتنۍ دقانون ترسیورۍ، مالومات به د دوهمي مقصد دپاره هم پکارشي. په عمومی ډول چیرې داچې تاسي به نسبي ډول دکډوالۍ اداری څخه غوښتنه کوئ چې ستاسي شخصي مالومات اوددوهمي هدف یا راسأ دلمړنې هدف(دحساسومالوماتولپاره) سره په اړیکه کې یا دلمړنې هدف سره په اړیکه کې(دشخصي مالوماتولپاره) افشا یا وکاروي. د بیلګي په ډول، هغه مالومات چې تاسي دویزې د غوښتنلیک دپاره ډک کړې ممکن دراتلونکوغوښتنلیکونوپه اړه هم وکارول شي (په ګډون د *Freedom of Information Act 1982* (د 1982 کال آزادی مالوماتونواوازساتنۍ قانون تر سیورۍ). ددي نه اضافه، مونږبه دالکترونیک اړیکې په وسیله چې تاسي چمتو کړې دامیګریشن موضوع ګانوپه باره اړیکه ونیسو.

# که دکډوالۍ اداره ستاسي شخصي مالومات راټول نکړي دهغې نتیجه به څه وي

که ستاسي شخصي مالومات راټولي نشي، کډوالۍ اداره به نشي کولي چې ستاسي غوښتنلیک دویزې یا تابعیت دپاره اجراآت وکړي یا(چیرې که اړیکه ولري) تجارت یاراکړي ورکړي،صادرات، واردات اوقرنطین ملاتړخدمتونه تاسي ته چمتوکړي.

چې ونه شوکولي ستاسي مالومات راټول کړوکډوالۍ اداری به ونشي توانیدي چې خپلې قانوني وظیفه ترسره کړي(بخصوص دقبلیدوپه اړه)، دا دهغې قانوني پاملرنې وظیفه ده، یا دآستراليا نړیوالۍ تعهدونه دي.

# معمولأستاسي د شخصي مالومات افشأ کول دریمګړیوته

## افشا کول نومول شوی نماینده ګانوته

چیرې چې تاسي یوکس نوموي، لکه دکورنۍ غړی، دامیګریشن وکیل، ګمرکونونماینده، دسفریا هوايي لیک نماینده، امبدسمن، دپارلمان غړی، یا قانوني وکیل چې ستاسي نمایندګي کوي، ستاسي شخصي مالومات به دغودریمګړیوته افشا شي مګرغیرله هغې چې تاسي خپله اجازه نه وي مونږهغهسي نه کوو.

ستاسي شخصي مالومات به هغه کس ته چې تاسي سپانسروي یا ستاسي سپانسر.

## معمولأ نورودولتي اداروته افشأ کول

د کډوالۍ اداره په څینې حالاتوکې دسرحدي قوا یا بل قانون په حکم صلاحیت یا اجازه لرى چې شخصي مالوماتونه ددولت نورواداروته افشاکړئ، لکه دده دفعالیتونودتنظیم په مقصدیا نوري اداروته توان اومرسته دهغودکړنوداجرادپاره ورکړي. مثالونه يي په ګډون د مالومات ورکول چې ستاسي پیژندنه تصدیق کړی، دسند اصلیت تصدیقول کوم چې تاسي چمتو کړي، دسوابق مقایسه کولوپه غاړه اخستل، یا دوظیفي قبلیدلوتنظیم.

په ګډون ددولتي اداري چې مونږمالومات تبادله کوومګردوي محدود نه دي په:

- دبشري خدمتونواداره (DHS)، چې *Social Security Act 1991* (ټولنیزي هوسایني قانون*1991)* تنظیموي، د *Child Support (Assessment) Act 1989* (کوچنیانو (ارزونه) ملاتړ*1989* قانون)) او *Child Support (Registration and Collection) Act 1988* (کوچنیانوملاتړ(ټولولواوثبتول) *1988* کال قانون))
- ټولنیزي خدمتونو اداري
- دکرهنې اداره، چې دآستراليا بایوسکیورټی biosecurity سیستم نظیم کړي اود *Quarantine Act 1908* (د *1908* قرنطین قانون)، *Export Control Act 1982* (دصادراتودکنترول *1982* کال قانون) او *Imported Food Control Act 1992* (وارداتي خواړو *1992* کال قانون)
- درماني شیانوتنظیم
- دصنعت، نوښت او ساینس اداره
- Australian Sports Anti-doping Authority (دآستراليادسپورټ د Anti-doping صلاحیت) چې د National Anti-Doping Scheme (ملي Anti-doping پلان) تنظیم کړي
- دښوونې اوروزنې اداره، چې د *Education Services for Overseas Students Act 2000* (ښوؤنه اوروزنه د بهرنیو زده کوونکي دپاره قانون *2000)* دخدمتونوتنظیمول
- استخدام، مهارتونو، واړه او کورنۍ بزنسونواداره، چې سوابق مالوماتوسره داستخدام خدمتونو سره سروخوري
- دزړوخلکوچارواداره، چې *Veterans' Entitlements Act 1986* (زړوخلکوشرطونوواجد قانون *1986)* تنظیم کړي
- د آستراليا ټکس یا مالیي دفتر (ATO) چې *Income Tax Assessment Act 1997* (مالي عاید سنجولوقانون *1997)* تنظیم کړي اونوري مالي قانون جوړول
- عادلانه کارپلټنه (FWO) چې *Fair work Act 2009* (عادلانه کار *2009* کال قانون) تنظیم کړي
- دبهرنیوچارواوتجارت اداره (DFAT) چې *Australian Passport Act 2005* (د آستراليا دپاسپورت قانون *2005)* تنظیم کړي او ساتني ویزې اجراأتو د پاره دمربوطه هیواد مالومات لاسته راوړل، اود دوه تابعیت لرونکې په حیث دهره یوه بهرني پاسپورت لرلوپه نظرکې نیولوسره چې تاسي به برخمن یاست
- دآستراليا د ټکنۍ کمیسیون، چې د *Commonwealth Electoral Act 1918* (مشترک المنافي ټاکۍ قانون *1918)* تنظیم کړي.

### بیا کتنۍ، حسابي او تحقیق اداري

که تاسي دشایستګي یا قضایي بیا کتنۍ تصمیم نیولوته غوښتنه کوي، کډوالۍ اداره به اړینه مالومات قضأ یا محکمې ته چې مرکه ترسره کوي چمتوکړي.

مونږمالوماتونه تحقیقاتي اداروسره شریکوو لکه:

- کامنولت اومبدسمن سره
- دآستراليا د مالوماتود کمشنر دفترسره
- دآستراليا ملی حسابي آزمايښت
- دآستراليا دبشري حقونوکمیشن
- منصفانه کار اومبدسمن.

### بیرني او قانون تطبیقول

ستاسي شخصي مالومات به دآستراليا قانون تطبیقولواداري یا بیرني خدمتونوته دبیرني پیښو، بي حده ټیې کیدو یا مړینې په منظورممکن ورکول شي.

همدارازکډوالۍ وزارت د(آستراليا کامنولت، ایالتون او سیمه ییز علاقې) او بهرني قانون تطبیقونکې اداري یا موسسي چیرته چې دکړنوپه اړه دقانون تطبیقول اړوي، په ګډون دمخنیوي، مالومول، څارنه، اوتعقیب یا جزاورکول دمجرم جرم ته.

### ملاتړپروګرامونه

د ویزې د اجراأتوپه وخت کې چې مالوماتونه راټولیږي لاندي اداروته به ورکړشي:

- د صنعت اداری ته چې دانګریزي ژبې د تریننګ آسانول او مراقبت وکړي
- صنعت، نوښت او ساینس اداری چې د انګریزی ژبې تریننګ امکانات برابروی او مراقبت کوي.

© COMMONWEALTH OF AUSTRALIA, 2020

## با صلاحیت لایسنس ورکوونکوته افشأ کول

که تاسي په آسترالیا کې د لایسنس دپاره غوښته کوي، کډوالۍ اداره به اړوند اداروته ستاسي دامیګرشن حالت اوکاراجازه، اوځینې حالاتوکې که تاسي تابعیت لاسته راوړمالومات  وړاندې کړي. دغه مالومات به ستاسي دلایسنس اخستلوپه هکله وارزول شي. دلته به همداراز په خاصه توګه افشاکول شتون ولري که تاسي د ځانګړي لایسنس دپاره دګمرک دقانون ترحکم غوښته وکړئ.

## دشخصي مالوماتوبا صلاحیت افشا کول

'شخصي څیرې پیژندونکې' په 1 مخ پیژندنه شوي.

کډوالۍ اداره د 4A دامیګریشن قانون دبرخې او s43 تابعیت قانون  حکم سره په ډیروحالاتو شخصي څیرې پیژندونکې افشا کړي. د مثالونو په ګډون:

- چې تابعیت یا ویزې حالت تصدیق کړي
- جرم قانون تطبیقولودپاره
- پیژندل شویومالوماتوبادله د آسترالیا ددولت اداروسره تریونظم لاندې
- اړوند مالوماتولاسرسې قضأ، محکمه، یا تحقیق کونکې اداری ته
- چیرې چې دآسترالیا قانون لازم ګڼي.

همدا رازکډوالۍ اداره دتابعیت قانون حکم سره اجازه لری چې شخصي څیرې پیژندکونکې دتابعیت په مقصد یا امیګریشن اصول په حکم افشأ کړي.

همدا رازدمهاجرت قانون د 4A برخې کډوالۍ اداری ته اجازه ورکوي چې شخصی مالومات ( په ګډون د شخصی پیژندنې) په لاندی حالاتوکې افشأ کړي:

- سوابقوسرورکول په:
  - چې ثابت کړي، یادکس اصلی هویت تصدیق کړي
  - دیوکس اجراأتوننوتل یا بیرته تګ دآسترالیا څخه آسانې کړي
  - غیرتابعیت لرونکې کوم چې جرمي سابقه لري وپیژني، د شخصیت نګران وي یا دملي امنیت نګران وي
  - داسنادوسره مبارزه اودامیګریشن په موضوع ګانوکې تقلب پیژندنه وکړي
  - حفاظتي ویزې داجراآتومرسته
- چې یوکس وپیژني یا ځای یې مالوم کړي (همدا راز د مایګریشن قانون 33FA او 33FC برخې وګوري)
- چې څارونکي اداري وګماري لکه د آسترالیا ملي حساب اخستونکې دفتراودآسترالیا بشري حقونوکمیشن
- بیرته ایستل آسترالیا څخه یا دیوکس استرداد آسترالیا ته اود آسترالیا څخه چې بهرني دولتونوسره نظم جوړوکړي
- چې مالومات خاص بهرني دولت ته لاسرسي ورکړي، بهرني دولت قانون تطبیقول او سرحدکنترولولو اداري، یا خاص نړیواله اداري دمایګریشن موضوع ګانونظم په منظور( د مایګریشن قانون (3)5A ماده وګوري)
- نړیوالۍ جرمي موضوع ګانولاسته راوړل یا مرسته ورکول.

دزیاتومالوماتودپاره دشخصي پیژندنې په هکله فورم 1243i وګوري.

دکارګرودویزوپه اړه، همداراز کډوالۍ اداره اجازه لری چې ځینې شخصی مالومات د سپانسرونویاویزه لرونکود لیکونکې ویزه لرونکې یا سپانسرپه هکله افشأ کړي (د مایګریشن قانون 140ZH ماده او اصول 2.103، 2.104 او 2.105 وګوري).

همداډول دکډوالۍ وزارت صلاحیت لري چې شخصي مالومات کوم چې د امیګریشن اوسرحد ساتنۍ مالومات دي افشا کړي [د سرحدي څواک قانون 4(1) برخه وګورئ] محدودوحالاتوکې د سرحدي څواک دقانون په 6 برخه کې راغلې افشاکړي. په ځینې حالاتوکې د سرحدي څواک قانون لاندي بنسټونوته د افشا کولو اجازه ورکوي:

- کامنولت، ایالت اوسیمه ییزي علاقي ځانګي یا صلاحیت لرونکي مقامونوته
- د آسترالیا فدرال پولیس (AFP) یا سیمه ییزپولیس یا د ایالت یا سیمه ییزعلاقي خدمت
- د قضایي پیښوتحقیق کونکي coroner
- کامنولت، ایالت یا سیمه ییزعلاقي قانون تطبیقونکي دفتر لرونکي (دبیلګې په ډول پلټونکي)
- اداري یا خلک چې دآسترالیا دسرحدي قوا (Secrecy and Disclosure) (رازساتني اوافشاکولو) لخوا تشریح شوي د 2015 کال د رول په اساس، لکه دآسترالیا د سرې میاشتي ټولنه
- بهرني هیوادنه یا نړیوالې عامه موسسې.

په هرحال، دنوروځانګړولزومتیاونه برعلاوه دسرحدي قوا د قانون د 6 برخې په حکم، دشخصي مالوماتوافشاکول د سرحدي قواقانون یواځې پورتني موسساتوته چې یویاڅوموسسو مقصدونو اجازه دسرحدي قواقانون کې ذکرشوي صلاحیت ورکوي دبیلګي په ډول چیرته چې د لاندني مقصدونودپاره افشا کول شته:

- دجرمي قانون تنظیمول تطبیقول یا قانون دتجارت په برخه
- دقضایي پیښوپلټونکي سره مالوماتولاس ته راوړلومرسته کول، تحقیق یا پوښتني
- عامه روغتیا ساتنه، یا ژوند یا امنیت دیویاڅوکسانو
- داحصایي تصدیقول اوټولول د *Census and Statistics Act 1905* (د *1905* کال سرشمیرني اواحصایي قانون) ترحکم یا د *Australian Bureau of Statistic Act 1975* (د *1975* کال د آسترالیا د احصایي دبیروقانون)
- عامه عاید ساتنه
- دیوکس پیژندل یا دهغه تابعیت یا ویزي حالت تصدیقول
- دخدمتونوقانون دهغه چادپاره کوم چې دآسترالیا تابعیت نلري
- د ملي Anti-Doping طرحي ته تنظیم
- د امیګریشن، قرنطین، یا آسترالیا اوبهرنیوهیوادونوترمنځ د سرحد کنترول په هکله هدف ټاکنه
- موضوع ګاني چې د ډول ډول قوانینولخوا تایید کیږي په ګډون د Customs Act, Migration Act, Maritime powers Act, Citizenship Act, IGOG Act, (دګمرکونوقانون، کډوالۍ قانون، سمندري قواوقانون، تابعیت قانون، IGOG قانون او داسي نوري)
- ددفاع اوملي امنیت په اړه هدف ټاکنه.

همدا رازدکډوالۍ وزارت صلاحیت لري چې شخصي پټ مالومات هم افشا کړي که هغه کس دافشاکولوپه هکله رضایت ښودلي وي، یا دغه مالوماتوافشاکول دیوچا دژوند یاروغتیادجدي تهدید په کمولویا مخنیوي کې ضروري وي یا دغه مالومات مخکې دمخه قانوني توګه عامه خلکوته میسره وي.

دسرحدي قواقانون 51 برخه دځینونوروقوانینوپه مطابق دغه افشاکول تاییدوي ددغي قانون 6 برخه دغه افشاکول مني چې د دغي قانون په حکم درازساتنې دقانون په هدف صلاحیت ورکړشوي.

برعلاوه، د امیګریشن اوسرحد ساتنۍ مالوماتوافشاکول دسرحدي قوا ترحکم اجازه ورکړشوي که دغه افشاکول د ګمارل شوي کس داستخدام یا خدمت په دوران کې دکډوالۍ وزارت دپاره وي. دکډوالۍ وزارت به یقیني کړي چې هره یوه دغه رنګ افشاکول د رازساتنې دقانون په مطابق وي.

همدا ډول دکډوالۍ وزارت صلاحیت لري چې شخصي مالومات افشاکړي کوم چې محدودوحالاتوکې مالوماتودګمرکونوپه اړوند قانون کې فکرشوي ساتنه کیږي لکه دګمرکونوقانون اومقررات.

## د تګ یا حرکت سوابق افشأ کول

دسفرکونکې راتګ اوبیرته تګ سوابق دآسترالیا څخه په تګ اوراتګ داطلاعاتوسوابقوکې خوندي شوي. دوي ممکن د دغومقصدونو دپاره افشا یا وویل شي:

- د مایګریشن قانون
- د *Family Law Act 1975* (د کورنۍ قانون *1975*)
- ګمرک یا غیرمستقیم مالیه
- قرنطین یا روغتیا قانون
- قانون اجراکول
- *Education Services for Overseas Students Act 2000* (بهرنیوشاګردانودپاره د ښوونۍ اوروزنۍ قانون *2000*)
- تعین شوي کامنولت، ایالتي یا قلمروقانون، لکه تنظیمول د لمړنۍ کور پلورونکو پروګرامونه یا کوچنیانواو/یا خیریه پروګرامونه.

## دقانون تطبیقولواواړیني مقصدونودپاره افشا کول

دقانون تطبیقولواداري اواړیني مقصدونولخوا معمولأ افشاکول(په ګډون د کړنوتطبیقولودپاره د کډوالې اوتابعیت دقوانینوترحکم اوکړنوتطبیقولو د نوري تطبیق کونکي اداري) په ګډون ددغو شیانو:

- آسترالیا او بهرنیوقانون اجرا کولواداري چې ارزوینه اودکرکتر غوښتنه تاکید کړي
- آسترالیا اوبهرنیوقانون اجرا کولواداري او استخباراتواداري یا ګمارل شوي اداري، ملي عامه دپولیسوخدمتونه، نړیوالۍ پولیس، ملي سرحد هدف کولومرکز، AusTRAC, CrimTrac, تنظیمي کارکونکي، پوښتنوپارلماني کارکونکي، نړیوالۍ محکمه او بهرنیومهاجرت صلاحیت لرونکي، چې امیګریشن فساد موندل اوپلټنه وکړي، ملي امنیت موضوع ګاني، یا جنګي جرم برخه لرلوګمان د بشریت په ضد


© COMMONWEALTH OF AUSTRALIA, 2020

- دآسترالیا کمیسیون د قانون دتطبیق لپاره درستوالي چې د *Law Enforcement Integrity Commissioner Act 2006* (قانون تطبیقولودرستوالي کمیسیون *2006* کال قانون) تنظیم کړي
- DHS، ATO اونوري کامنولت یا ایالتي اوقلمرواداري هغه کس پیداکړي چې کارکوي اودکارپه اړه ویزي شرط ماتوي
- AFP اود آسترالیا دپولیسوقوا غیرقانوني اوغیرتابعیت لرونکي پیدا کړي
- عامه قانوني تعقیب کونکي مایګریشن یا تابعیت متخلفین تعقیب کړي
- بهرني دولتونه د غیرقانوني غیرتابعیت لرونکي ویستلود پاره
- FWO ثبت شوي د ښوونې اوروزنې انستیتونه، استخدام کونکي، سپانسرشوي کسان، سپانسران اودکارګرانوتهیه کونکي چې ویزی حالت سره قبلیدلي اوسپانسرشپ وظیفي کتنه وکړي، اودقانوني اجازي څرنګوالی دحالات یادونه وکړي.
- دقانون تطبیقولواجنسي ګاني په ګډون د AFP د ویزي غوښتنکي شخصي مالومات اوغوښتلیکونه په اړه د کډوالي اوبشردوستي پروګرام ترحکم، چې هره یوه قانون تطبیقونکي یا ملي امنیت مسئلي پیژندنه وکړي.

# د کډوالي وزارت لخوا د قانون تطبیقونکي اداري په حیث افشا کول

د کډوالي وزارت ځیني هدفونودپاره دلاندنیوقوانینوپه حکم دقانون تطبیقونکي دي: د *Crimes Act 1914,* the *Criminal Code Act 1995,* the *Australian Nuclear Science and Technology Organisation Act 1987* (the ANSTO Act) and the *Independent National Security Legislation Monitor Act 2010* ((*1914*) کال جرمونوقانون، د *1995* کال مجرم کود قانون، د *1987* کال د آسترالیا داتومي علم او تکنالوژي موسسي قانون، (د ANSTO قانون) اود *2010* کال د آزادي ملي امنیت نظارت قانون)) او د دغي قوانینوترحکم ممکن شخصي مالومات افشا کړي ترڅو کړني اودکارطرزسرته ورسیږي.

## دپروګرام تنظیمولوسره په اړیکه نوري افشا کول

### ضمانت یا تعهد ملاتړ

خلک چې ضمانت یا تعهد ملاتړ چمتوکوي اړینه مالومات به سنترلنک ته وویل شي چې اخستل شوي نقدي ضمانت ورکړي اساني کړي یا پیژندل او بیرته اخستل د پوروکړي شي.

### استخدام، دکارګرتهیه کول اودبزنس مهارتونه

کډوالی اداره به ستاسي د مهاجرت حالت په هکله، کاراجازه اودویزې معیاد کارورکونکوته، دکارګرتهیه کوونکواودریمګروته کوم چې دکارګر بندوبست چمتوکولوله لاري ستاسي خدمتونه کاراخلی مالومات افشأ کړي. دمثال په توګه، کله چې تاسي دکار غوښتنه کوئ، کډوالی اداره به استخدام کوونکې یا د کارګرچمتو کونکې ته ستاسي د برخمن کیدو په هکله مالومات ورکړي.

همدا راز کډوالی اداره ستاسي مالومات ایالتی اوقلمرواقتصادی ودې اداراودفترونوته به ورکړي ترڅوماهرومهاجروته مرسته وي چې دولتي کسب اوکارمالوماتونوخدمتونوته لاسرسې وکولي شي.

### ښوونې اوروزنې اوزده کړي

شخصی مالومات به دغوته ورکړشي:

- DFAT، دصنعت اداره، اود ښوونې اوروزنې اداره هغوسره مرسته وکړي چې غواړي زده کړه او تعلم په آسترالیا کې وکړي
- استخدام اداره مالوم کړي چې په نظرکې نیول شوي دکارځاي جزییاتوڅه اغیزه دآسترالیا په کارګرمارکیټ کې
- دښوونې اوروزنې او صلاحیت لرونکي نماینده کوم چې دبهرنیوشهادتناماوارزونه ځینو ویزو ډولونوته کوي
- ښوونیزاوروزنیزانستیتونه کوم چې انګریزي زده کړي ګرځنده ښوونکي ترلوینانګریزي پروګرام لاندي چمتوکوي
- دولتي موسسي د تعلیمي مقرراتوچمتوکونکوهدفونودپاره.

### روغتیا

ستاسي یاستاسي دکورنۍ غړوروغتیایي جزییات، چې ویزي غوښتنلیک دپاره ارزوینه شوي ممکن دولتي ادارو اوطبي چمتو کونکوته ورکړشي ترڅومالوم کړي چې روغتیایي لازمتیاوي آیا د ویزي ترلاسه کولودپاره درستي دي، چې ملاحظه شي آیا روغتیایي لازمتیاوي باید صرف نظرشي یاعامه روغتیا خطرونونظم ته.

### پناه غوښتونکي او بشردوستۍ داخلیدل، اوسمندرغاړې ساتنه

کډوالی اداره به شخصی مالوماتونه دپناه غوښتونکواوبشردوستانه داخلیدونکواودهغوي غوښتل شوي (که صدق وکړي) قراردادي خدمت کونکې چمتوکونکوته دبشردوستانه ځای په ځای شویو خدمتونوسره ممکن تبادله کړي.

کډوالی اداره شخصی مالومات دپناه غوښتونکواوحفاظت غوښتونکو یا بشردوستانه ویزي په اړه د ملګروملتونولوي کمشنرې مهاجرو (UNHCR) ته د پیژندنې دتصدیق په مقصد، اوبشردوستانه، یا حفاظتي غوښتنی ممکن چمتوکړي.

همدا راز کډوالی اداره شخصی مالومات به مهاجروليپاره نړیوالی اداری ته د خدمتونووړاندی کولوارزوینې دپاره ورکړي.

### بندیز

کډوالی اداره به شخصی مالومات دامیګریشن په بند کسانوپه اړه دغوته ورکړي:

- ایالتي او قلمروخیریه اداراوته د بلې حل لیارې بندیزتنظیمولوپه اړه عمرلاندې یواځې کوچنیانوپاملرنی یا فزیکي اودماغي روغتیا معیوبونودپاره
- ایالتی اوقلمروتادیبی خدمتونوته چې انتقالات آسان اوامیګریشن حالات تصدیق کړي
- هیوادنه بهردخدمتونواجراآتوچمتوکونکي لیږدینوملاترته
- ښوونځي، طبي کارکوونکي روغتیایي او خیریه خدمتونو وړاندی کوونکي، یا تاسي ته دامیګریشن مشوره ورکونکوخدمتونووړاندي کوونکي یا داختیارارزوینه چې تاسي یا ستاسي دکورنی بیرته تګ ته مرسته وکړي.

### خیریه مؤسسه او دکوچنیانوساتنه

دکوچنیانوشخصی مالومات، او/یا والدین/ساتونکي/کوچنانوپالونکي، ممکن کوچنیانوهوساینې مؤسسي اوساتني اداري ایالت/سیمه ییزعلاقي کوچنی هوساینې اداري، ایالتي/سیمه ییزعلاقي پولیس یا اړینې آسترالیایي دولتي اداروته به ورکړشي:

- تنظیم اونظارت پاملرنه او رفاهیت تنظیمول دامیګریشن په بندیز ځای او/یا په ټولنه کې
- داحتمالي غفلت اوبې عزت کولوپلټنه
- دسفراواسنادوتنظیولوآسانتیاوي برابرول.

آسترالیاته دکوچنیانوداخلیدل دفرزندي دپاره دهغومالوماتوافشأ کول ایالتي اوقلمروهوساینې مؤسسوته، د آسترالیا مرکزي فرزندي نیولواودآسترالیا د هیواد دننه کې فرزندي قبلول.

### مالومات سفارت خانو، بهرني لوړي دفترو، قونسلګریوته چې دسفرسندونه لاسته راوړي

که تاسي دبیرته تللو په اساس ویزه ترلاسه کړه یا غیرقانوني بنیاد نلرې چې آسترالیاکې پاتې شي تاسي نه هیله کیږي چې ووځي. که تاسي په نسبي دوخت په چوکاټ کې با اعتباره سندسفردپاره نلرې، د کډوالی اداري د همیشنې کارله مخې ستاسي په عوض غوښتنه وکړي. دابه ستاسي بیرته تګ تنظیمولوپه هکله وي.

کډوالی اداره به ډیرلږمالومات سفارت، لوړپوري کمشنرې، قونسلګري ته لازمي دي ورکړي چې دسفردسند شرط آسانه کړي. دابه ستاسي دنوم، ستاسي داونسی پاسپورت جزییات یا بله پیژندنې سند اواړیکې نیولوجزییات په ګډون وي.

### تابعیت

کډوالی اداره به شخصی مالومات برعلاوه دشخصی پیژندني دغوته ورکړي:

- سیمه ییزدولت یعنې ښاروالی اونوري مؤسسوته د تابعیت اخستلو اجراآتودلمانځلودمقصد دپاره
- دګورنرجنرال د پاره دسکرترسمي دفتراودصدراعظم دفتراوکابینه چې غوښتنلیکونه د استرالیا د افتخاراتوپه هکله مدنظرونیسي
- دپارلمان غړي او ښاروالی قونسلران د نوي تابعیت اخستونکي ښه راغلاست دپاره دآسترالیا په ټولنه کې.

**د مهاجرت څېړنه**

شخصي مالومات داوسنې اوپخوانیومشتریانوداحصائیه اخستلوپه مقصد وکارول شي. شخصي مالومات به نوروادارو اودریمګړیو قراردادیانوته دڅېړنې په مقصد، پلټنې اوتحلیل دپالیسي او/یا پروګرام پراختیا په مقصد ورکړشي.قراردادونه دبیان شوي څارنې په مقصدونو کارول محدودوي، اودهغې خرابې بشپړولوسره لازموي. سوابق راټول او مطالعې کې کارېږي مخکې له دې نه چې خپورشي ونه پېژندل شي.

شخصي مالومات به دآسټرالیا احصائي اداری ته چې سرشمیرنې ارزوینې اسانې کړی دنویوراغلود مختلفو مایګریشن پروګرامونو اوځای په ځای کیدونتیجودپاره وركول كيږي.

مالومات دورستیوراغلوپه اړه ایالتی اوسیمه ییز مؤسسو یا مهاجر خدمتونوادارو ته به ورکړشي چې ځایي کیدوپلان یاځایي کیدو خدمتونه چمتوکړي.

## غتې نړیوالې پیښې

شخصي مالومات به د آسټرالیا دولتي مؤسسوته په ګډون د ایالتي او سیمه ییزمؤسسي ورکړل شي، چې دهمکاري وندہ نړیوالوغټو پیښو کې لري، لکه: غټې سپورتي لوبې او ګیمونه، نړیوال هیوادنو مشرانوکتنې، نړیوالې اجتماعي، فرهنګي او مذهبي یوځای کیدل یا فستیوالونه.

همدا رازکډوالۍ اداره به غیر حساسیت لرونکې مالومات دآسټرالیا او نړیوالې مؤسسوته، نوروهیوادوته، ووایي او وکاروي، چې ستاسي تنظیول آسان کړي.

## مالومات دکډوالۍ اداری راز ساتني پالیسي په هکله

دکډوالۍ اداری رازساتني پالیسي دکډوالۍ اداری په ویب پاڼه کې

**https://www.homeaffairs.gov.au/access-and-accountability/our-commitments/privacy** شتون لري.

دا پالیسي دغې مالوماتونوپه باره کې دي:

- تاسي به څنګه خپله شخصي مالوماتو ته چې کډوالۍ اداری لخوا اخستل شوي لاسرسې ولري اودهغې صحیح کول وغواړي
- څنګه درازساتنې پالیسي په ماتولواودکډوالۍ اداری د شکایت اوریدلواجراآتوڅخه شکایت کوي.

## ستاسي د مالوماتو وړاندی کول بهرنیواخستونکوته

کډوالۍ اداره بهرني IT قراردادیان استخداموي چې سوابق انتقال او ذخیره کړي، په ګډون دچمتوکوونکې چې بهرکې اوسیږي.

څینوحالاتوکې مونږشخصي مالومات بهرنیواخستونکوته ورکوو. معمولاً اخستونکي به ستاسي د اوسیدواصلي هیواد وي یا هغه هیواد چې تاسي دهغې نه راغلې یاست (ترهغه چې تاسي دهغوهیوادنوپه وړاندې دحفاظت غوښتنه وکړئ اویا دهغه غوښتنې ارزویني پاې ته رسولو دپاره انتظار وکړي). دابه دهوایي شرکتونویا تراول اجنټونودپرمخ تللي مسافرتي اجراآتواود ویزې الکترونیکې اجراآتوپه ګډون وي.

همدا رازکډوالۍ وزارت نوروهیوادویا نړیوالې مؤسسوسره کوم چې دمالوماتودشریکوالۍ تعهد آسټرالیا مګریواځې امریکا سره نه، انګلستان، کاناډا اونوې زیلاندسره لري مالومات تبادله کوي. ددغومالوماتوتبادلې به ممکن بایومټریک (شخصي پیژندونکي) شریکول په برکې ونیسي.

که دلته ستاسي په پیژندنه کې یوشانتې والې شتون ولری، کډوالۍ اداره به ستاسي دژوندانه تاریخچې سوابق افشاکړي، دسفرکاپې ګانې اونوری دپیژندنې سندونه یا مالومات ددغوسندونوڅخه، ستاسي دامیګریشن حالت اودامیګریشن سوابق(کوم چې په ګډون د هره یوه جرم او تقلب وي) اوهره یوه مالومات دجرمي سابقې.

ددغوافشا کولومقصد داده چې ستاسي د پیژندنې دتصدیق په هکله مرسته وکړي اوروښانه کړی چې آیا تاسي په عین هویت، نوم او غوښتنه بل مؤسسی ته ځان ښودلې.

که تاسي دسمندرنه هغه غاړه کې بشردوستۍ غوښتنلیک جوړوي یا د ساتنې ویزی غوښتنلیک دخاص هیواد ددولت په ضد، کډوالۍ اداره به ستاسي شخصي مالومات به ددغه هیواد دولت ته ونه وایي، مګر داچې تاسي په آسټرالیا کې یاست اوتاسي:

- غوښتنه یا موافقه وکړه چې دغه هیواد ته بیرته ځی، یا
- مهاجرونه پیژندل شوي چې آسټرالیا خپله وظیفه وګڼې چې تاسي ته ساتنه ورکړي.

| | |
|---|---|
| کورپاڼه | **www.homeaffairs.gov.au** |
| د عمومي مالوماتولیک | په آسټرالیا کې دکاري ساعتونوپه **131 881** شمیره کې تلفون وکړي چې آپریتور سره خبري وکړي( ریکارد یاثبت شوي مالومات دکاردساعتونونه دباندی وخت کې شتون لرى). که تاسي دآسټرالیا څخه دباندی یاست، لطفاً خپلې نږدې آسټرالیا دفترسره اړیکه ونیسي. |


© COMMONWEALTH OF AUSTRALIA, 2020